# Specific Pashto Phonemes: An Analytical Study

# د پښتو مخصوص فونیمونه: یوه تجزیاتي مطالعه

Dr. Faqir Muhammad★
Dr. Ferkhanda Liaqat★★

## Abstract:

Language is collection of sounds and their number in all languages might be as many as they should be but the phonemes are very specific and are numbered quantitatively in comparison with other sounds of a language .These sounds( phonemes) are very essential for a language as they provide with ways and means of writing and speaking correctly. Phonemes are never thought to be meaningless as they are very decisive in imparting and conveying message accurately. They, when are shaped up as words, turned out to be called graphemes. In these Pashto phonemes four are specific phonemes I.e. ښ،ړ،ځ،څ ،Khyal Bukhari,Dr Khalid Khan Khattak, Perishan Khattak do not consider them phoneme and are of the considered opinion that phonemes represent other Pashto dialects like Yousafzai and Kandahari as substitute, and are made for addressing the dialectical variations. It is strived in this paper to prove in accordance with the principles of Phonetics that these particular words or sounds are separate phonemes, and are pronounced very accurately by speakers of different tribes. They have their specific sounds and point of articulation and are different from the substitute sounds.

**Key words :**Pashto Specific Phonemes, Graphemes, Dialectical Variations, Phonetics, Point of Articulation.

ژبه که هر څو د اوازونو مجموعه ده او په هره ژبه کښې د اوازونو تعداد که هر څومره زیات وي خو د فونیم مقرراو د شمار اوازونه وي او د یوې ژبې دعاموغږونونه په شمېرکم وي ـ دغه غږونه په یوه ژبه کښې بنیادي حیثیت لري،وېنا او لیک ته لارې هواروي ـ هسې خو بې شمېره بې معنې غږونه هم د یوې ژبې حصه وي خو د ژبنې خصوصیاتود نشت له وجې ټول اوازونه د

---

★ Lecturer Bacha Khan Study Centre Bacha Khan University Charsada
★★ Associate Professor Pashto Academy University of Peshawar

ژبې حصه نه جوړېږي، کوم غږونه چې د معنې او مفهوم دپاره کردار لوبوي هم دغه فونيم وي۔
دغوغږونو یا فونيم له چې د حرفونو علامتي شکل ورکړې شي نو ګرافيم بللے شي ۔+
پښتوژبه کښې د رسم الخط یا ګرافيم تعداد څلورڅلویښت دے ۔په دغوکښې اتۀ ویشت دعربۍ ،څلور د فارسۍ پ،چ ، ژ او ګ۔ د دې نه علاوه درې دهندي ژبې ټ، ډ ، ړ۔ څلورد پښتو مخصوص غږونه ځ، څ ، ږ ، ښ۔دغسې ڼ او د یاګانو پنځۀ قسمونه چې یو پکښې د عربۍ حرفونو کښې شمېرلے شوې اونورڅلور به پښتوکښې شمېرلے شي ۔ دغه غږونه او د دې ګرافيم په ژبه کښې ډېر ارزښت لري ۔ د ژبې د بقاء اوتاريخي تحفظ ضمانت لري۔
صديق الله رښتين د دې اهميت داسې وړاندې کوي۔
"لکه چې معلومه ده انسانانو لومړے د پوهولو را پوهلو لپاره د خبروکولو ژبه رامنځته کړه او بيا ئې له دې امله چې اوازونه ورکيدونکي اوله منځه تلونکي دي او برسېره پردې په عياث کښې هم له هغو څخه کار نۀ اخستل کېږي ۔ د پېړو په تېرېدو سره ئې د اوازونو په مقابل کښې علامې او ښښې اختراع کړې چې هغو ته توري اوالفباء وائي او په نتيجه کښې د هغو له ترکيب او ګډون څخه خط او ليک منځ ته راغے او په دې ترتيب اوازونه د افکارو د نما ئنده حرفونو او اشکالو د اوازونو د نمائنده ښه نيولې ده " (۱)
دلته زمونږ کار د پښتو د مخصوصو تورو ځ ،څ ، ږ ، اوښ د تجزيې سره دے او دا کتل دي چې دغه حرفونه فونيم دي که نۀ دي ځنې پوهان دا مخصوص توري فونيم نه ګڼي او دا د ليل وړاندې کوي چې دا د نورو حرفونو نمائندګي کوي ځانله غږونه نه دي او دا چې د دوه غټولهجو کندهارۍ اويوسفزۍ تر منځه د اختلاف ختمولو د پاره وضع شوي ۔ لکه (ځ) د ، ز او ج تر منځه اختلاف لرې کولو د پاره دغسې(څ) د س او چ توپير ختموي ۔(ږ) د ژ او ګ تر منځه سمون جوړوي او (ښ) د ش او خ رابطه جوړوي۔
پريشان خټک " ليک دود"کښې داخيال څرګندوي ۔ "د پښتو موجوده رسم الخط په حقيقت مبني دے او فطري اصولوعين مطابق دے ۔چونکه د نرمې او سختې لهجې بنيادي فرق ژ،ګ اوش ،خ کښې دے ځکه نودې خلقو ددې د پاره دوه نوي توري ايجاد کړي دي کوم چې په هغه وخت ليکلي شي کله چې يو لفظ د دواړو لهجو ويونکي په خپل خپل طرز استعمالوي" ۲
خيال بخاري صېب هم په دې اړه خپل خيال څرګند کړے دے۔
"زمونږ په ژبه کښې داعلامتونه بنيادي غږونه نۀ دي بلکه داسې علامتونه دي چې هر يو پکښې د دوو يا درېو بنيادي غږونو نمائندګي کوي ۔ ددې اختراع په يو خاص عرض شوې ده

ـ زمونږ په ژبه کښې ځنې الفاظ داسې دي لکه د مثال په طور واخلئ "پښتو" په دې کښې ښ (زما په نزد) د کوم بنيادي غږ علامت نۀ دے ـ بلکه دا د دوو يا زياتو قبيلو د تلفظ اختلاف په وجه په ليک کښې د اختلاف د ورکولو د پاره وضع کړې شوې دے" (۳)

دا خبره خيال بخاري په خپل کتاب صرف ونحو کښې هم کړې ده دا د خټکو او يوسفزو لهجې د اختلاف ختمولو دپاره وضع شوې دي(۴)

ډاکټر خالد خان خټک هم مخصوص توري فونيم نۀ گڼي ـ

" ما په دغه فهرست کښې د پښتومخصوص توري ځ ، څ ، ښ او ږهم اضافي ظاهر کړي دي او حقيقت هم داسې دے ـ دغه توري څۀ داسې بيل اوازونه نه لري چې معنيٰ کښې فرق راولي " ۵

ډاکټرصيب يې فونيم نۀ گڼي ځکه چې معنيٰ کښې فرق نه راولي او دا خبره سمه هم ده چې فونيم که ځانله معناٰ نۀ لري خو معنې لرونکو کلمو کښې مغنوي توپيرپيدا کوي ـ ۶

که مونږ د دغه مخصوص تورو استعمال ته اوگورو نو داچې دکومو غږونو متبادل گڼلي شي هغه هم معنوي بدلون نه پيدا کوي لکه

| کندهارۍ لهجه | يوسفزۍ | معياري بڼه |
| --- | --- | --- |
| شکار | خکار | ښکار |
| پشتون | پختون | پښتون |
| شوروا | خوروا | ښوروا |

اوس په دې درې واړو کښې که ښ فونيم نه دے نو بيا خو ش او خ هم فونيم نه دي ځکه چې معنې له توپير نه ورکوي دغسې د ږ خبره هم ده لکه

| يوسفزي لهجه | کندهارۍ لهجه | معياري بڼه |
| --- | --- | --- |
| خوگ | خوژ | خوږ |
| لگ | لژ | لږ |

دلته خو بيا گ او ژ هم معنا نه بدلوي نو فونيم نه شو څۀ.د ځ ، څ هم دغه حال دے خوبيا هم فونيم دي دغسې دا مخصوص توري هم فونيم دي او ځانگړي غږونه لري ـاو ددې اختراع د متبادل غږ د اختلاف دپاره نۀ ده شوې ـ دا ځانله مخصوص غږونه دي او د ادائيگۍ خپل مخرجونه لري ـ په يوه ژبه کښې د لهجو د اختلاف حتمولو د پاره نور حرفونه وضع کول په کوم دليل کيدلے شي۔ دا به يو نوې اختلاف پيدا شي چې نه د يوې لهجې او نۀ د بلې نمائنده وي او بل

زياتي حرف هم را پيدا کړې شي ـ دا خو لسانياتو د اصول بالکل خلاف دي چې په اوچ زور او بې ضرورته الفباء زيات کړې شي او بل دا چې د غږونو موجودګي ئې هم نه وي ـ اصول خو دا دي چې د دنيا په هره ژبه کښې زياتې لهجې وي خو د ليک دپاره يوه غوره شي او په هغې کښې ليک کېږي ـ دباره ګلې او نورې د رسم الخط د پاره هلې ځلې په خپل ځائے صحيح دي او دا موجوده رسم الخط هم بهترين دے خو په دې کښې غږونه وضع شوي نۀ دي ـ او پخوا نه موجود غږونه د حرفونو په شکل کښې وړاندې شوي دي او ډېر علمي کار دے ـ دا يو خبره هم سمه ده چې د نورو لهجو دغه مخصوص غږونه هم په داسې اندازاستعمال شو چې ورک هم نۀ شو او د دوو لهجو د اختلاف ځائے ئې هم اونيولو۔ خو دا د متبادل په طور نه دي وضع شوي

۔عقاب خټک په دې اړه زړۀ پورې خبره کوي

" ښ نه خو د (ش) ژغ کوي او نه د (خ) " ښ" " ش" او "خ " دريو سره پښتو کښې بيل بيل ژغونه دي د کومو د پاره د پښتو په رسم الخط کښې درې (ښ، ش ، خ ) علامتونه ټاکلي شوي دي ـ که ښ د ش ژغ کوله شوه او د خ هم بيا خوخبره اسانه وه۔ پښتنو به د پښتو په ليک دود کښې د يوۀ په ځائے درې ټکي ولې ورمنډل " (۷)

دغه مخصوص حرفونه ځانګړي غږونه لري چې خپل مخصوصه ادائيګي لري۔

دا خبره بيخي سمه نه ده چې دا حرفونه نوې ايجاد شو۔ د دې د پاره چې د دغه لهجو اختلاف ختم شي ځکه چې د بايزيد انصاري، اخون درويزه بابا او خوشحال خان خټک په دورکښې چا دا اختلاف څرګند کړے وو او ددې د ختمولو د پاره چا شعوري کوششونه کړي وو۔ شعوري طوراختلاف ډېر جديد دے او دا ځانګړي فونيم ډېرلرغوني دي ـ

د پښتو رسم الخط د پاره اول ځل د پښتو ټولنې کابل له خوا په ۱۹۴۲ء کښې غونډه اوشوه دغسې په ۱۹۴۸ء او ۱۹۵۱ کښې هم غونډه اوشوه بيا وروستو د پښتو اکيډمي پېښور پوهنتون په زيار ۱۹۵۷ء او ۱۹۹۰ء کښې د محکمه تعليم له خوا د پښتو اکيډمي پېښورپوهنتون په کوششونو د باره ګلې سيمينار اوشو چې پکښې درسم الخط په اړه متفقه فېصلې اوشوې ـ

خو دغه ځانګړي حرفونه مونږ د بايزيد انصاري په کتابونو" خېرالبيان" ، "فرحت المجتبيٰ" او" د علم رساله" کښې وينو ـ د اخون درويزه بابا او خوشحال بابا په ليکونو کښې په نظر راځي۔په خپله ډاکټر خالد خان خټک دا مخصوص حرفونه د اختلافي غږ د پاره د بايزيد انصاري ايجاد ګڼي۔( ۸)

ډاکټر عبدالله جان عابد ئې هم د بايزيد انصاري زيار ګڼي۔ وايي چې د بايزيد تر وخته د

پښتو مخصوصو اوازونو د پاره علامتونه نۀ وو۔ په اول ځل هغۀ خیرالبیان کښې دا قسم علامتونه جوړ کړي دي۔(۹)

د پښتو لیک لاز کښې هم دغه خبره شوې ده چې د باړه ګلیٔ د سمینار فیصلې لري او پروفیسر سید تقویم الحق کاکاخیل او ډاکټر راجولي شاه خټک لیکلې دي۔

"ګویا تر دي کاله دپښتومخصوصو اوازونو دپاره څۀ منلي شوي علامات نه وو۔ دا د بایزید انصاري د غیر معمولي ذهانت نخښه ده چې د پښتو د ټولو لهجو اوازونه ئې په نظر کښې ساتلي دي۔ کوم چې وروستو اخون درویزه بابا بلکې د خوشحال خان غوندې همه جهت عبقري هم په نظر کښې ونۀ ساتل"(۱۰)

د دې خبرې سره اتفاق ممکن دے چې دغې مخصوص اوازونو له بایزید انصاري علامات ورکړي دي خو دا خبره چې اخون درویزه بابا او خوشحال خان خټک غوندې نابالغه په نظر کښې نه دي ساتلي نودا سمه نه ده ۔اخون درویزه دغه مخصوص اوازونو له خپل علامتي شکل ورکړےدے لکه د ړ ، ځ ، ښ ، او ړ شکل۔ او څ ئې د ځ د پاره هم استعمال کړے دے او تر ننه زیاتره هم د اخون درویزه بابا دي حرفونو دوام موندلے دے ۔ دغسې خوشحال بابا هم ځ ، دپاره (ءح) څ (ءچ) او ڼ د پاره نء علامات استعمال کړي دي ۔

د خوشحال بابا املا د هغه په کورنیٔ کښې تریویٔ صدیٔ پورې مشتعمله وه د دوي نه علاوه غیر خټکو کښې هم ئې څۀ نه څۀ د رواج لرلو نمونې موندلې شي لکه د مصري خان ګګیاني قلمي دیوان چې د سکندرخان خټک دیوان سره یو جلد کښې خوندي دے او شپږم نمرلري۔(۱۱)

دغه مخصوص خرفونه یا فونیم کوم چې د بایذید انصاري زیار او ایجاد ګڼلې شي نودغه غړونه دهغۀ ایجاد نۀ دے او نه غړ د یو مخصوص سړي ایجاد وي ژبه دعوامو وي او کومه چې د اولس ژبه وي د هغې استعمال کیږي ۔ ژبه دغړونو مجموعه وي او بیا دغې غړونو له علامتي خرفونه جوړکړې شوې دي نو بایزید انصاري به ټیک ده چې دغو موجودو غړونو له شکل ورکړے وي خو غړونه ئې نه دي جوړ کړي۔ دغه د ژبې حصه وو او اوس هم د ځنې قبیلو خلق ددې اوازنو په صحیح استعمال پوهیږي ۔ د ځنې لهجو ویونکي دا اوازونه نۀ شي ادا کولے ، ترڅو چې د لهجو خبره ده نو څومره چې د یوې ژبې د ویونکو ترمنځه رابطې او تړون زیاتیږي، څومره یو بل ته نزدې کیږي نو د لهجو اثرهم کمیږي ۔ دغه وجه ده چې دغه مخصوص اوازونه د نورو لهجو په اثر کښې خپله ځانګړتیا بائیلي۔

ډاکټر پالوال ليکي چې د دولسمې پېړۍ نه وړاندې خطبځې(لرې) پښتونخوا کښې هم د /ځ/ او /ځ/ خپل ځانګړې انداز وو خو اوس /ځ/ په/ز/ او /څ/ په /س/ بدلوي.(۱۲)

پريشان خټک ليکي د ځنو خلقو داخيال صحيح نۀ دے چې پښتو رسم الخط د بايزيد انصاري ايجاد دے ۔ که چرې د دۀ ايجاد وو نو اخون درويزه بابا به چرې هم دغه رسم الخط نه ووخپل کړے.(۱۳)

د ځنې پوهانوداهم خيال دے چې د پښتو د رسم الخط باني قاضي سيف الله دے چا چې د محمود غزنوي د وزيرحسن مېمندي په وينا جوړکړي وو.

"سلطان محمود کے زمانے مين اس کے وزير حسن ميمندي کي خاص ايما سےقاضي سيف الله نے ادھر توجه کي اورحروف تهجي کي ترتيب مين حسب ذيل کاروائي کي

۱جمله حروف غزبي يا تازي کهلاتي هے لئے جا ئين

حروف مختص به فارسي پ ، چ ، گ بهي لئے جائين

۳ خاص اوازو کو حسب ذيل اشکال سے تعبير کيا ۔

څ ، ځ ، ډ ، ړ ، ڼ ، ږ ، ښ ، ګ اس تر تيب نے خاص رواج پايا " (۱۴

هم دا خبره بهادر شاه ظفر کاکا خيل هم کوي چې د قاضي سيف الله زيارد ے .(۱۵

اسماعل يون( ۱۶) او عبدالکريم بريالے هم دغه خيال لري .عبدالکريم بريالے دا هم وائي چې کيدې شي د تذکرةالاولياء مولف سليمان ماکو ته دغه رسم الخط رارسيدلے وي اوهغۀ خپل کړے وي.(۱۷)

د تذکرةالاولياء کومه نسخه چې عبدالحئي حبيبي پښتنانۀ شعراء د نمونې په طور وړاندې کړې ده په هغې کښې د پښتو مخصوص توري هم د ننني دور پشان دي. لکه ښ، ځ ، ږ، څ. نمونه ئې داده

غر ولاړ دے درناوي کښ

تول ژوي پ ځاري کښ

زمرږ کړدي پکښ پلني

دا وګړے ډير کړي خداي (۱۸)

عبدالعلي رسول زاده ليکي چې د تذکره الاولياء نه مونږ سره زړه ليکنه نشته نه ددې مطلب دا شو چې ددې ليکونکي به هم د قاضي سيف الله د رسم الخط نه استفاده کړې وي.(۱۹)

د جديدې املا د استعمال نه دا ثابتېږي چې يا خو دغه نمونه چا د دغه تذکرې نه جديد

دورکښې نقل کړې ده او یا بیا دغه نمونه د ۴۱۲هه دورې نهٔ ده او په دې لرغوني حیثیت ئې د قلندر مومند اعتراض بې ځایه نهٔ دے چې دغه تذکره رښتونے نه ده.(۲۰)

د قاضي سیف الله د رسم الخط دلیلونه اوشهادتونه کمزوري دي ځکه چې په سانسي بنیادونو نه ثابتېږي او ترڅو چې ئې نمونه نهٔ وي ترلاسه شوې نوصرف په قیاس ئې منل د څېړنې د اصولو خلاف دي خو د پښتو د مخصوصو غږونو خبره ښکاره ده چې فونیم دي او دغه غږونه د بایزید انصاري نه وړاندې هم موجود د وو ځکه خو ورله هغهٔ علامتي شکل ورکړے دے ـ دغه کاراخون درویزه هم کړے دے ـ

عبدالحي حبیبي خو ددغه غږونو تسلسل تر کالونو لرغونتیا پورې راکاږي او تر قبل مسیح ئې بیائي او د کوشاني دور په رسم الخط کښې ددغه غږونو نمونه وړاندې کوي چې د بغلان په کتبه کښې د "ښ" دپاره د" ش+خ" علامت لیکلے شوے دے.(۲۱)

## صوتیاتي تجزیه:

پښتو د مخصوصوغږونو د تجزیې په رڼا کښې به دا ثابتوو چې دا غږونه فونیم دي ـ دا ځکه چې د هرغږ د ادائیګۍ خپل مخصوص ځایونه یا مخرج وي ـ مونږ ته دا ښائي چې غږ څنګه پېدا کېږي د کوم ځاے نه او په څهٔ طریقه وجود مومي ـ د غږ د پېداوښت تغلق چې د غږپوهنې کوم اړخ سره وایي.(Articulatry phpnetics)دے هغې ته تلفظي یا وېنائیزه غږپوهنه په دې کښې دهغو اوازونو مطالعه کېږي کوم چې وېنا یا کلام کښې خپل کردار لوبوي ـ د دې وضاحت هم کوي چې کوم غږ دکوم صوتي اندام نه پېدا کولے شي که ټول د استعمال نه وي نوځني غږونه که کله کله یا یوه سیمه کښې استعمالېږي(۲۲) ـ دغه غږونه که مخصوصه علاقه یا قبیله استعمالوي نوهم نظر اندازکیدلے نه شي ـ

یو خبره ډېره اهمه ده چې د یو اواز د پاره یوعلامت د ښهٔ رسم الخط او ژبې خاصه وي ـ دلته د مخصوص اواز سره مونږ وایو چې یو خرف درې اوازونه ورکوي نو دا خو د ژبپوهنې له رویه خامي ده. چې اختلاف د دوو اوازونو وي او درې کړې شي ، خقیقت دا دې چې د پښتو هم دغه حرفونه یویو اوازلري خو د لهجې د بیلتون په وجه ئې ادا کول مشکل دي.د خپلوخپلو لهجو ویونکي ئې سم وائي. که یوحرف درې اوازونه لري نو مطلب دا دې چې درې اوازونه دي، درې حرفونه به ورله پکاروي اودغسې دي هم.

د خیال بخاري کومه خبره چې وړاندې ذکرشوې چې دا مخصوص غږونه د نورو نمائندګي

کوي پخپله غړونه نۀ دي نو هم پخپله دغه لیکنه کښې د خپلې خبرې تردید په غېر شعوري ډول کوي۔

" ولې اوس د ژبې د مختلفو ژبځانګو په حقله د زیاتومعلوماتوپه بنا دا ښکاره شوې ده چې بره ذکر شوې علامتونه (ځ ، څ ، ړ، ښ ) چې په کومو لفظونو کښې استعمالیږي ۔ په دغه الفاظوکښې دغه علامتونه د دوؤ دوؤ په ځاے د دریو دریو غړونو نمائندګي کوي، دا دریم قسم غړ په خاصو قبیلو کښې مروج دے لکه واخلے د قندهار خواوشا او د بنګښنو څه برخه " (۲۳) د یو حرف درې اوازونو دا خبره منتظربېتنےهم کوي چې دغه څلوروحرفونو کښې هریو درې غړیزد ے۔(۲۴)

ددې وضاحت پخپله د خیال بخاري اقتباس کښې موجود دے ، چې ځنې قبیلې دغه دریم اوازهم لري ۔ لکه د مثال د پاره "ښ" ځنې قبیلې صحیح تلفظ کوي اوځان له غړ دے ۔ د متبادل د پاره چې راځي نو د "ش" او "خ" فرق ختموي خو دغه فرق صرف په لیک کښې وي په وین اکښې نۀ وي او ژبه د اوازونو مجموعه وي د حرفو نۀ وي اوس که مونږ غور اوکړو نو یوسفزي اوخټک دواړو لهجو ویونکي د اختلافي تورونه علاوه هم د" ش" او "خ" استعمال کوي۔ دا خو نۀ ده چې یوسفزي "ش" په خپله لهجه کښې نۀ استعمالوي او نۀ داسې ده چې خټک "خ" نۀ شي تلفظ کولے ۔ دغه دواړه حرفونه دواړه قبیلې استعمالوي نو مطلب دا دې چې دغه ځان له اوازلري او دواړه لهجوو یونکي ئې وائي هم او متبادل نه علاوه نورو لفظونوکښې ئي لیکي هم ۔ لکه خزان ته خو خټک شزان نه وائي۔ داسې شکر ته خو یوسفزي خکر نۀ وائي او نۀ لیکي ۔ د "ښ" هم ځان له غړ دے ۔ دا بله خبره ده چې د ځنې لهجو د اختلاف د پاره ئې هم خپل کردارادا کړو۔دغسې دغه نورمخصوص علامتونه هم دي ۔ ددې وضاحت عبدالحلیم اثر افغاني داسې کوي۔

"د پښتو ټولو قبیلو کښې برمهمند او د افغانستان د لوګرخلق د پښتو مخصوص حرف" ښ" صحیح ادا کوي او د دې په ځاے د فارسۍ "ش" یا د عربۍ حرف "خ" نۀ ادا کوي ۔ دغه شان د ضلع کوهاټ خلق خصوصاً بنګښ د پښتو ژبې مخصوص حرف "څ" صحیح ادا کوي او د دې په ځاے "س" یا " ث" نۀ وائي" (۲۵)

وړاندې لیکي د حرف "څ" تلفظ که په خپل صحیح مخرج کښې اوکړے شي لکه د قبائیلي بره مهمند چې ئي صحیح ادا کوي نو بیا "څ " او" س" سره په تلفظ او استعمال دواړو کښې فرق لري" ( ۲۶)

غږ وتونځای یا مخرج : (Point of Articulation)

مونږ که د دغه مخصوصو حرفونو او د کومو متبادل حرفونو د پاره چې پکار يږي، ذکر کړو او د دې مخرج په نظر کښې اونيسو نو دا خبره به نوره هم واضحه شي چې دغه مخصوص حرفونه ځان له اوازونه دې ځکه فونيم دي ـ په دغو کښې اول د "ځ "خبره کوو چې" س" او" چ " د متبادل د پاره هم غوره شوے دے ـد دې حرف باره کښې منتظر بيتنې ليکي۔

"د پښتو دغه حرف هم درې اوازونه لري ـ دوه وصلي او يو اصلي او ذاتي ـ د دې حرف اواز نۀ خو د " س " بڼۀ لرې اونۀ د " چ" غوندې دے ، بلکه ځان له خپل جلا اواز او مخرج لري ـ خو د يوسفزي اومروتې لهجې خلق ئې په" س" او"چ" بدلوي۔(۲۷)

اوس د دې نه ثابته شوه چې دغه "ځ " بيل اواز لري ـ د "س" او"چ" خو خپل اواز دے البته په ګرافيم يا ليکلي صورت کښې د دغه اوازونو د متبادل ګرافيم کار هم کوي، نۀ چې د غږ په شکل کښې ـ غږونه خو هرلهجه ويونکي خپل وائي، خو ليکلے صورت ئې يو دے نو د دې خو مطلب دا شوچې يو حرف درې اوازونه نۀ ځکه چې درې اوازونو د پاره يو حرف استعماليږي۔ د يو حرف خو درې اوازونه نه دي۔

دا خبره خيال بخاري هم کوي چې د ژبپوهنې د ترقۍ په وجه دا ښکاره شوې ده چې دغه مخصوص علامتونه د دوو دوو په ځاے د دريو دريو غږونو نمائندګي کوي چې وړاندې حواله نمبر ځليرشتم کښې ذکر دے۔

د"ځ" د مخرج ښودنه خيال بخاري داسې کوي چې د دې اواز ادا کولو د پاره اول " ژ" به د "ت " په (ts)مخرج کېښودے شي او بيا به تادۍ سره د "س" مخرج ته وروستو کړې شي ـ په رومن کښې دا غږ ليکلے شو۔(۲۸)

عبدالحي حبيبي وائي چې "ځ" غږ په روسي او جرمني کښې هم شته او د "ت۔ س" يا " ث۔ت " ګډو اصواتو ته نزدې دے۔(۲۹)

ډاکټربشره د "ځ "او "ځ مخرج باره کښې ليکي چې په دې کښې د ژبې سريا خېته د اورو سره اوجنګېږي نو اوريز اوازونه پېدا شي۔(۳۰)

" س" د ژبې د سراومخامخ دووغاښونو نه ادا کېږي او "چ " دا د ژبې د مېنځ اومقابل بره تالو نه ادا کېږي نو د دې درې واړو اوازونو مخرج جدا جدا دے او ځان له فونيم دي

ځ : دا د "ز" او"ج" متبادل هم دے ـ په دې کښې" ز" د ژبې د سر اولاندې غاښونو نه ادا کېږي او

صفيري غږ دے او "ځ" د ژبې مينځ او تالو نه تلفظ کېږي۔ "ځ" د "د" او "ز" د مخرجونو نه ادا کېږي۔ حبيبي دا صوت د (ز ،ج ) ترمېنځ ګڼي۔(۳۱)

منتظرئي د خپل بنيادي اواز او مخرج لرونکے غږ مني اودا هم زياتوي چې د افغانستان او پاکستان ډېر پښتانۀ قبائيل ئې په صحيح توګه ادا کولے شي۔(۳۲)

ږ : دا د پښتو مخصوص غږ دے او د غلځي قبيلې په وئيلو توان لري درې غږيز د (غ ، ګ ، ژ) محلول دے(۳۳) دا اواز "ژ"نه لږ ورستو پېدا کولے شي۔ غبرګ ژبي اواز دے ۔(۳۴) ګ او ژ چې د دې متبادل دي ګ نرم تالويز دے ۔

ښ : دا هم غبرګ ژبي بې غږه اواز دے۔

مجاوراحمد زيارد "ښ" په خقله ليکي

په معياري پښتو کښې بايد " س " او "ز"د منځنيو ګړدودو( لکه وردګو يا انډړو) په وينګ اوتلفظ ومنل شي ځکه چې يو څۀ زياتوالے لري۔د ساري په توګه هلته د کندهاريانو پرته نور خبرلوثان( ښ) له هم دغه منځني وينګ سره سم د (ش)او (خ)تر منځ تلفظ کوي۔ (۳۵)

د افغانستان غلځي قبائل ئې په سمه طريقه ادا کولے شي ۔ بر مهمند او ورکزي ئې هم د "خ" تالو خوا ته ادا کوي۔ د دې متبادل چې خ او ش دي نو د خ مخرج خلقي دے او د مرۍ د اولې حصې نه ادا کېږي تالويز هم ورته وئيلے شو ۔ او د "ش" مخرج لساني دے د ژبې له منځ او تالو نه ادا کېږي ۔د دې مثالونو په رڼا کښې ثابته شوه چې د مخصوصو اوازونو او د دې د متبادلو حرفونو دغږونو مخرجونه جدا جدا دي ۔ او په دې کښې هېڅ شک نشته چې ځان ځان له غږونه يا فونيم دي۔ د مختلفو قبيلو خلق اوس هم دغه قسم غږونه ادا کوي او دهغوي د روزمره ژبې حصه ده اودا چې دغه مخصوص حرفونه درې درې اوازونه نۀ لري ځان خپل بنيادي غږ لري ۔ وروستو بيا پوهانو د اسانتيا په خاطر او د دوؤ غټو لهجو خټکواويوسفزو ترمنځه د ليک د اشتراک د پاره د دوه غږونو د متبادل په توګه هم استعمال کړي دي۔ خو دغه قبيلي هم دغه متبادل اوازونه په خپلو لهجو کښې هم استعمالوي خو چرته چې اختلاف دے هغلته د مخصوصو تورو نه کار اخلي او چرته چې اختلاف نشته دغه متبادل په خپل خپل ځاے استعمالوي د دې مطلب دا شو چې هغه هم ځان له فونيم او دا مخصوص هم فونيم دي ۔ که چرته دغه لهجوکښ د متبادل په توګه راشي نو هم د علامت يا ګرافيم په شکل وي، تلفظ د خپلو لهجو مطابق کوي۔

## References


1) Rehteen,Siddiqullah, Pashto gramer, Peshawar, university book agency, 1994, pages 6,7
2) Pareshan khattack,prof, leek dood, Banu, Pashto adabi markaz,sarai Noorang, 1989, page 19.
3) Khyal Bukhari, Da pukto jabe bunyadee masala, Pashto, Pashto Academey Peshawar university, july 1964-65, volume 3,4 page 164.
4) Khalid khan khattack, Dr, Pashto Rismul khat ke da lisanyat la makhe ra walare shawe kashale, Pashto, Pashto academy Peshawar University, 1991, page 92.
5) Khyal Bukhari, surf wa Naho, Peshawar, University Book Agency, no year, page 4.
6) Sabir kheshki, Pashto Ghag pohana aw wayee pohana, Germany, Afghanistan cultural society, 2001, p, 11.
7) Uqab khattack, Muhammad sirfraz khan, Pashto, Pashto academy, Peshawar University, April 1970. P
8) Khalid khan khattack, Pashto Rismul khat ke, pages, 86, 87.
9) Abid, Abdullah Jan, Pashto Zuban wa adab kee mukhtasar tareeh, Peshawar, university publishers, 2013, page 32.
10) Taqweem Ull khaq kakakhel, saeed, prof, Dr Rajwali Shah Khattack, Pashto, Leek Lar, Pashto academy University of Peshawar, 2011, page, 8.
11) Faqir, Faqir Muhammad, A Linguistic study of Khushal Khan Khattack poetry in the light of Word formation, PH.D thesis, pushto department Peshawar university 2014-2015, page 244.
12) Palwal,Abdur Razak,Meyaree ,Shal.1384,p,112.
13) Pareshan, Khattack, Leek Dood, page, 15.
14) Khair ullah, Qazi,Khairul Lughat, Lahore NoLuckshwar prenting pres, 1906, page 4-
15) Kaka khel ,Bahadur Shah Zaffar, Zafrul Lughat, Peshawar, University Book Agency, 2016, page, .
16) Uon,Muhammad Ismael,Pukhto Leekane Samoon,Kabul,Kaltoree uon,1387.p6.
17) Beryale, Abdulkarim, Da Pashto leek dood, Quita, Pashto academy, 2000, page 72.
18) Abdul Ali,Rsol Zada,da Pukhto Jabe Osane Leek Dood,p 7.

19) Sulaiman Makoo, Tazkiratul Awalya, from Pukhtana Shoara, edited by habibi, Kabul Umomi Matba, 1320Hijree.
20) Qalandar Momand, Pata khazana felmezan, Peshawar, chapzai, 1988, page, 172.
21) Habibi, Abdulhai, prof, Da pukhto Adabyato Tareeh, Peshawar, Danish khparandoya Tolana, 2005, page, 278.
22) H.A .Galeason, Tauzeehi Lisanyat aik Taaruf, translated by Ateeq Ahmad, Lahore, Book talk, 2012, page, 280.
23) Khyal Bukhari, Da Pukhto jabe bunyadee masala, page, 168.
24) Muntazir Bettane, Swarlus kharfona dwa Wesht awazona, Banu, permah tag banu city, 2012, page, 27.
25) Asar, Abdul Halim Pukhto Adab, Peshawar, Adara Aishaghat e sarhad, 1370 higri, page 29.
26) As above, page, 45.
27) Muntazer Betne,Swarlas kharfoona dwa weesht awazona,p
28) Khyal Bukari, da pukhto jabe masale, page, 168.
29) Habibi, da pukhto adabiato tareeh, page,278.
30) Bushra Aakram, dr, Jabpohana, Pashto academy, Peshawar university, page, 255.
31) Da Pukhto Adabiato tareeh, page, 282.
32) Diarlus kharfona dwa weesht awazona page, 29.
33) As above, page, 38.
34) Shakir, Noor Ahmad,Jabanai Serane, 1350, page, 11.
35) Ziar, Majawar Ahmad, Leek lar hod, Safi Pashto research center, 2006, page, 29.